# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**8حوت _سال 1402**

خبرنامه



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


غور کې له سلګونو کورنیو سره د ژمنیو مرستو د وېش لړۍ پیل شوه----- 1
برای بیش از ۱۰۰ خانواده، در ولایت بلخ کمک صورت گرفت----- 1
فاریاب ولایت کې له ۱۰۰ ښځه زیاتو کورنیو ته بخارۍ ورکړل شوې ----- 2
بیش از ۱۰۰ مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود----- 3
سرپل کې ۳۴ کورنیو سره مرسته وشوه ----- 3
صد ها خانواده، در ولایت هلمند کمک شد ----- 4
غزني کې لسګونو کورنیو سره نغدي او د جامو مرسته وشوه ----- 4
صد ها خانواده ، در ولایت ننگرهار مساعدت شد ----- 5
ننګرهار کې پر ښځه باندې دوه زره کورنیو د خوراکي او غیر خوراکي توکو وېش پیل شو ----- 6
له فرانسي ښځه د کډوالو اجباري ایستل څه ډول ترسره کېږي؟----- 7
د ترکيي پولیسو په چناق قلعه ښار کې لسګونه افغان کډوال نیولي----- 9
آلمان: آتش سوزی در یک کمپ پناهجویان یک کشته به جای گذشت ----- 11

# متن کامل اخبار

## غور کې له سلګونو کورنیو سره د ژمنیو مرستو د وېش لړۍ پیل شوه

د وزارت ویب سایت



**په غور ولایت کې د کب په ۷ مه نېټه له ۹۰۰ کورنیو سره ژمنۍ نغدي مرسته پیل شوه.**

**په دغو کورنیو کې هغه کسان هم شامل وو، چې مخکې هلته د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو آمریت لخوا اړمن پیژندل شوي وو.**

**هرې کورنۍ ته به په څو ورځو کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ له خوا ۱۳ زره او ۷۰۰ افغانۍ ووېشل شي.**

## برای بیش از ۱۰۰ خانواده، در ولایت بلخ کمک صورت گرفت

ویب سایت وزارت



برای ۱۳۷ خانواده بیجاشده و عودت کننده در ولایت بلخ کمک نقدی و غیر خوراکی بتاریخ ۶ حوت توزیع شد.

خانواده های مذکور قبلاً از طرف ریاست امور مهاجرین آن ولایت شناسایی شده بودند.

برای هر یک از۱۱۳ خانواده یک پایه بخاری از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان و به ۲۴ خانواده عودت کننده در دو بخش مبالغ ۱۸ هزار و ۱۰ هزار افغانی کمک سازمان بین المللی مهاجرت توزیع شد.

## فاریاب ولایت کې له ۱۰۰ څخه زیاتو کورنیو ته بخارۍ ورکړل شوې

د وزارت ویب سایت





Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

په فاریاب ولایت کې د کب په ۶ مه نېټه ۱۹۵ بې ځایه شویو کورنیو ته بخارۍ ورکړل شوې.

یادې شوې کورنۍ پخوا د دغه ولایت د پشتونکوټ او د میمنې ښار په بېلابېلو سیمو کې د مهاجرینو ادارې له لوري اړمنې پېژندل شوې وې، چې وروسته یې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له لوري یوه ـ یوه بخارۍ ترلاسه کړه.

## بیش از ۱۰۰ مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

۱۳۸ تن مهاجر افغان به تاریخ ۶ حوت از خط فرضی تورخم به کشور برگشت نموده اند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۲۸ خانواده که شامل ۱۳۸ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت در ریاست مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## سرپل کې ۳۴ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د سرپل ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د کب په ۶ مه نېټه له ګاونډیو هېوادونو څخه په ۳۴ جبري راستنېدونکو کورنیو د نغدي مرستو د وېش خبر ورکړ.

یادې کورنۍ پخوا د دغه ولایت په مرکز کې د مهاجرینو آمریت له لوري اړمنې پېژندل شوې وې، چې وروسته د مهاجرت نړیوال سازمان له لوري ۱۸ کورنیو ته ۱۵ ـ ۱۵ زره او ۱۶ کورنیو ته ۱۰ ـ ۱۰ زره افغانۍ ورکړل شوې.

## صد ها خانواده، در ولایت هلمند کمک شد

ویب سایت وزارت




ریاست امور مهاجرین ولایت هلمند، از توزیع کمک نقدی برای ۸۹۶ خانواده برگشت کننده کشور های همسایه به تاریخ ۶ حوت خبرداد.

خانواده های مذکور قبلاً از طرف ریاست مهاجرین در مرکز آن ولایت شناسایی شده بودند، پس از آن مبلغ ۳ هزار و ۲۰۰ افغانی کمک نقدی سازمان جهانی خوراک را بدست آوردند.

## غزني کې لسګونو کورنیو سره نغدي او د جامو مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**په غزني ولایت کې ۶۷ راستنو شوو کورنیو ته د کب په ۶ مه نېټه نغدي مرسته او د ژمنیو جامو کڅوړې ورکړل شوې.**

**یادې شوې مرستې د ډنمارک د مهاجرینو د شورا له خوا ۹ زره او ۳۰۰ افغانۍ او د یونسف له خوا د ژمنیو جامو کڅوړې وې، چې هرې کورنۍ ته د دغه ولایت د مهاجرینو ادارې له خوا تر پیژندلو وروسته ورکړل شوې .**

## صد ها خانواده ، در ولایت ننگرهار مساعدت شد

ویب سایت وزارت



**برای ۸۵۸ خانواده برگشت کننده، رد مرزی، معیوب و نیازمند در ولایت ننگرهار کمک خوراکی، نقدی و غیر خوراکی به تاریخ ۶ حوت توزیع شد.**
**خانواده های مذکور قبلاً از جانب ریاست امور مهاجرین آن ولایت شناسایی شده بودند.**

**کمک یاد شده به ۳۷ خانواده معیوب و نیازمند در دو بخش مبلغ ۱۰ هزار افغانی و ۱۸ هزار افغانی همراه با یک بسته صحی مساعدت سازمان بین المللی مهاجرت و به ۸۲۱ خانواده برگشت کننده درولسوالی های مهمند دره و لعل پور، ۵ قلم مواد خوراکی کمک سازمان جهانی خوراک بود که با نظارت ریاست امور مهاجرین توزیع شد.**

## ننگرهار کې پر څه باندې دوه زره کورنیو د خوراکي او غیر خوراکي توکو وېش پیل شو

د وزارت ویب سایت



**په ننګرهار ولایت کې د کب پر ۶ مه نېټه ۲ زره او ۶ اړمنو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو د وېش لړۍ پیل شوه.**

**دغه کورنۍ پخوا هلته د مهاجرینو ریاست له لوري اړمنې پیژندل شوې وې، چې هرې کورنۍ ته به په څو ورځو کې ۳ ډوله خوراکي او غیر خوراکي توکي د ننګرهار ولایت د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست لخوا او هلته د مهاجرینو ریاست تر څارنې لاندې ووېشل شي.**

## له فرانسي ښځه د کډوالو اجباري ایستل څه ډول ترسره کیږي؟

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**د فرانسې د کډوالۍ د نوي قانون له مخې چې په دې وروستيو کې تصويب شو، له دغه هېواد څخه د کډوالو ايستل لا آسانه شوی. د بهرنيو اتباعو د ايستلو په لړ کې فرانسې يو تونسي ملا له نيولو څخه يوازې ۱۲ ساعته وروسته بېرته خپل هېواد ته و شړل. پر دغه ملا چې محجوب محجوبي نومېږي، تور دی چې د فرانسې بيرغ ته يې سپکاوی کړی او د يهودانو پر ضد يې څرګندونې کړې .**

**کډوال نيوز له فرانسې څخه د کډوالو د ايستلو موضوع ته کتنه کړې.**

**په کومو حالاتو کې کډوال له فرانسې څخه ايستل کيدلای شي:**

**په لاندې حالاتو کې بنايي تاسو له فرانسې څخه په زوره و ايستل شئ چې :په ناقانونه ډول فرانسې ته د ننه شوي ياستئ او د استوګنې سند (titre de séjour) و نه لرئ.**

**-په قانوني ډول فرانسې ته د ننه شوي ياستئ او د استوګنې د اسنادو موده مو پای ته رسيدلې.**

**د اوسيدو لنډ مهاله سند ( رسې پې سې) موده مو نه ده غځول شوې او يا هم دغه سند له تاسو څخه بېرته اخيستل شوی.**

**د استوګنې سند له تاسو څخه بېرته اخيستل شوی وي، رد شوی او يا نوی شوی نه وی. او يا په فرانسه کې نور د استوګنې حق و نه لرئ.**

-د استوګنې سند د بیا نوي کولو غوښتنه مو نه وي کړې او د تاریخ له تیریدو وروسته یې په فرانسه کې ژوند کولو ته دوام ورکوئ.

<u>هغه خلک چې په منظم حالت کې په فرانسه کې ژوند کوي:</u>

د فرانسې د کډوالۍ د نوي قانون له مخې د فرانسې له خاورې څخه د ایستلو حکم (OQTF)اوس پر هغو خلکو هم عملي کیدلای شي چې په لاندې څو حالاتو کې شامل وي خو د پخواني قانون له مخې دوی له فرانسې څخه نه ایستل کیدل.

-هغه بهرنیان چې له ۱۳ کلنۍ څخه په کم عمر کې فرانسې ته راغلي وي.

-هغه خلک چې له ۲۰ کلونو څخه ډیر وخت په فرانسې کې اوسیدلی وي.

-هغه خلک چې په فرانسه کې کورنۍ اړیکې لري لکه د یو فرانسوي ماشوم مور او پلار، له فرانسوی سره واده شوی کس، لږ تر لږه درې کاله یې له یوې فرانسوی سره واده کړی وي.

-هغه ناروغان چې درملنې ته اړتیا ولري.

دغه ډلې خلک چې په فرانسه کې یې استوګنه قانوني هم ده خو که چیرې په قطعي ډول د دریو او یا له دې څخه تر زیات وخت لپاره په بند محکوم شوی وي، فرانسه کولای شي چې له خپلې خاورې یې و باسي. همدارنګه هغه خلک چې « د عامه نظم لپاره جدي ګواښ» بلل کیږي هم له فرانسې څخه ایستل کیدلای شي.

د یو قاضي لخوا هغو خلکو ته چې د جرم له امله د دریو کلونو د بند سزا ولري، د فرانسې له خاورې څخه د اخراج سزا (ITF)حکم ورکول کیدی شي. د دغه سزا په پای کې دوی باید له فرانسې څخه ووځي.

کم عمره کډوال بیا له اخراج څخه معاف دي

د ایستلو پروسه څه ډول ترسره کیږي ؟

لومړی له خاورې څخه د ایستلو حکم ( OQTF ) ستاسو اړوند پروفکتور دفتر لخوا تایید کیږي.

تاسو ته د ایستلو د حکم په اړه خبر درکول کیږي. که چیرې د استوګنې سند مو رد شوی وي، تمدید شوی نه وي او یا هم له تاسو څخه بیرته اخیستل شوی وي، د پروفکتور دفتر اړ نه دی چې خپله پریکړه توجیه کړي.

که چیرې په ټاکل شوې موده کې په خپله خوښه فرانسې څخه و نه وځئ نو د اخراج د حکم له مخې، فرانسه کولای شي تاسو اخراج کړي.

د یادولو ده چې تیر کال په فرانسه کې پر ۱۷ زره خلکو د ایستلو حکم شوی و چې له دې ډلې ۴۶۸۶ تنه په زوره له فرانسې څخه ایستل شوي.

## د ترکیې پولیسو په چناق قلعه ښار کې لسګونه افغان کډوال نیولي

مهاجرنیوز




د ترکیې ساحلي ځواکونو یو ځل بیا ۱۱۱ ناقانونه کډوال چې ډیری یې افغانان دي، په دوو بیلابیلو عملیاتو کې نیولي. دغه کډوال چې ماشومان هم په کې شامل دي د چناق قلعه ښار په دوو بیلابیلو سیمو کې نیول شوي دي.

په لومړۍ پیښه کې ، ۶۸ کډوال چې غوښتل یې په ناقانونه ډول اروپا ته ځانونه ورسوي د ژاندار مري پولیسو لخوا له یو موټر څخه نیول شوي. په ترکیه کې د <u>۱۰۰ تلویزون</u> د یک شنبې په ورځ خبر ورکړ چې د نیول شویو کسانو له ډلې ۴۰ تنه یې افغان ماشومان دي .

دغه کسان د چناق قلعه ښار په ایزینه سیمه کې نیول شوي او د یادې پیښې په تړاو پولیسو دوه تنه د قاچاق په تور نیولي دي .

د ساحلي ځواکونو لخوا د ۱۰۶ نورو کډوالو نیول

د یو بل خبر له مخې چې د شنبې په ورځ خپور شوی، د ترکیې ساحلي ځواکونو د ۴۳ افغان ماشومانو په ګډون، ۱۰۶ ناقانونه کډوال د چناق قلعه په سواحلو کې له یوه ربړي کښتۍ څخه نیولي دي .

دغه کډوال د ایواجیک په سواحلو کې هغه مهال و نیول شول چې غوښتل یې د سمندر له لارې ځانونه یونان ته ورسوي.

چارواکي وایي چې په نیول شوو کسانو کې ۴۳ یې افغان ماشومان دي چې ټول دغه کډوال د ایواجیک په سیمه کې د کډوالو د بیرته ستنیدو مرکز ته سپارل شوي.

د ا لومړی ځل نه دی چې په ترکیه کې افغان کډوال د پولیسو لخوا نیول کیږي بلکه یوه اونۍ وړاندې هم لسګونه کسان په بیلابیلو ښارونو کې نیول شوي و. له نیولو څخه موده وروسته ګڼ شمیر دغه افغانان بیرته خپل هیواد ته استول کیږي.

نور ولولئ :د ترکیې پولیس "۳۹ ناقانونه افغان کډوال" له یو کامیون موټر څخه نیولي

د تیرې چهارشنبې په ورځ هم لسګونه افغان کډوال د ترکیې د امنیتي ځواکونو لخوا د دوزجه په ښار کې و نیول شول او د کډوالو د بیرته ستنیدو مرکز ته واستول شول.

د ترکیې د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې تیر میلادي کال کې له ۶۸ زرو څخه ډیر افغانان په دغه هیواد کې نیول شوي او ګڼ شمیر یې بیرته افغانستان ته استول شوي دي.

## آلمان: آتش سوزی در یک کمپ پناهجویان یک کشته به جای گذشت

مهاجرنیوز




در یک کمپ پناهجویان که در ایالت بایرن قرار دارد، آتش سوزی رخ داد که در این میان خاموش شده است. یک تن در این سانحه جانش را از دست داد. گفته می شود که احتمال دارد یک طفل عامل این حریق بوده باشد .

ماموران اطفائیه یک آتش سوزی را که در یک کمپ پناهجویان در نوردلینگن رخ داد، خاموش کردند. نوردلینگن در ایالت بایرن قرار دارد.

به گزارش پولیس، این آتش سوزی که یک تن براثر آن جانش را از دست داد، یکشنبه بعد از ظهر آغاز شد و دلیل آن تا به حال مشخص نشده است.

شبکه رادیو و تلویزیون بایرن «ب ار» به نقل از شهردار نوردلینگن اعلام کرد که ممکن است یک کودک باعث این آتش سوزی شده باشد.

یک سخنگوی پولیس دوشنبه صبح گفت، با توجه به اطلاعات کنونی این احتمال را نه می شود تایید کرد و نه کاملا مردود دانست.

در همین زمینه
<u>پس از آتش سوزی در کمپ، هویت قربانی هنوز نامعلوم است</u>

طبق اطلاعات پولیس که روز دوشنبه نشر شد، تقریبا ۱۳۰ تن در این کمپ پناهجویان زندگی می کردند. پولیس تا به حال راجع به هویت فرد قربانی و سه فرد دیگر که در این حریق زخمی شدند، اطلاعات بیشتری ارائه نکرده است.

یک سخنگوی پولیس در این باره گفت، این کمپ به خاطر آتش سوزی به حدی صدمه دیده که باید کاملا تخریب شود.

ساکنان آن به صورت موقت به یک مکان دیگر انتقال داده شدند. اداره شورای ایالتی اعلام کرد که یکشنبه شام برای پیدا کردن یک اقامتگاه بدیل دست به کار شده است.